# ستوري مجله دويمه ګڼه ۲۰۰۷ ع کال

# Stori Magazine first year, 2nd Issue! June-July 2007



**خیبر جبارزی**
د ننګرهار پوهنتون محصل (پوهېدونکی)

که زما ستوري په قبر چېرته راغلي
په پښتو راته دعــا کړه پې مننن یم



# اروابناد ډاکټر کبیر ستوري په «خوږو مسرو» کې

**یـــادښت: دا مقاله د ۲۰۰۷ ع کال د اپریل د میاشتې په څلورمه نېټه د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري د لومړي تلین په نمانځغونډه کې، چې د کونړ مېشتو فرهنګیانو په نوښت د کونړ ولایت په مرکز اسدآباد کې جوړه شوې وه، اورول شوې ده.**

د نړۍ پرمخ چې څومره ملتونه، قامونه او ولسونه اوسېږي، هر یو ځانته ځانتـه ژبـه، دود، کولتور او عنعنات لري، چې په هم دې شیانو یو له بله توپیرېږي.

هـر ټبـر او قـوم تـه، خپلـې ژبـې، خپـل دود او کولتـور پـه خپلـه پراخـه غېږه کې ډېـر څـه رانغښتي وي، چې د هغه په پاللو او ژوندي ساتلو د ړنا لاندې ژوند تېروي.

ددې قـامونو تـرمنځ یـو وړوکـی، ولـې ډېـر لرغـونی او زوړ قـام، چې د تـاریخ پـه اوږدو کې یې ډېرې سرې تـودې زغملـې دي، پـښتون یـا پـښتانه دي. د پـښتنو ژبـه پـښتو ده، پـښتو یـواځې ژبـه نـه، بلکې د پښتو پـه ارتـه لمن کې د پښتنو لپـاره ډېر څـه پراتـه دي، چې پـښتانه یې د ژوند د کړنلارې او قانون په توګه پېژني.

ښـاغلی پرېـشان خټـک پـښتو او پـښتونولي د پـښتنو لپـاره قـانون بـولي او د توریـالي پـښتون پـه اوه اویـایم مـخ د خوشال خـان خټـک ژوند د (پـښتونولی پـه آیینـه) کې تـر سرلیک لاندې یوځای لیکي:





«زما په خیـال کـه دا وویـل شي، چې د دنیـا پـه ګردو آینونو کې دوه آینونـه، چې هغـه د ټولو نه زورور دي، دواړه نالیکلي دي، یو پښتونولي او بل د برتانیې آیین.»

دا خبـره بـه هلـه د سړي زړه تـه ورولوېږي، چې د پـښتو او پـښتنو پـه اړه ژوره مطالعـه ولـري. رښتیا هم چې پـښتونواله او پـښتونولي څـه نوې مسله او نوی شی نـه دی، بلکې د پـښتون قـام لـه پیداښت سره د هر پـښتون پـه ساه او کـالبوت کې نغښتې خبره ده او نـه کومـه وختـه، چې د پښتنو ژوند او ژواک پیل شوی، دا روحیه ورسره سمه موجوده ده.

د پـښتو د ادب سـتر لیکـوال اروابنـاد قیـام الـدین خـادم پـه وینـا ، چې فـرق تـش دومـره دی چې د لاشعوري پـه اشـارو کې دا روحیـه د قـام پـه تحت الـشعور کې پرتـه وه، خـو څومره چې دنیـا انکـشاف کـاوه، علـم او معـارف مـخ پـه وړانـدې روان و، د پـښتنو دنیـا هـم ورسـره مـخ پـه وړاندې تلله.

لـه امیـر کـروړ څخـه دمخـه آن تـر جمـشیده پـورې د لاشـعوري خبـره رسـېږي، خـو لـه بـایزیـد روښـان څخـه راوروسـته دا روحیـه شعوري بڼـه نیـسي. خوشال بابـا او ورسره پـه څنګ کې د بابـا هم عصرو پـه خپـل وخت کې دا روحیـه د زړه پـه مینـه او وینـه پـاللې او ژونـدۍ یې سـاتلې ده. پـه تېره بیـا د بابـا دسـتارنامه، چې د پـښتو نثر شهکار بلـل کېـږي، د پـښتونولۍ او ملـي افغـاني روحیـې تـر تـاثر لانـدې لیکـي: هـو د پـښتونولۍ دا روحیـه د بابـا لـه وفـات سره مړه نـه شوه، بلکې میرویس نیکه، احمد شاه بابا او له دې وروسته پښتنو هم په ډېره مینه وپالله.

وزیـر محمـد ګـل خـان مومنـد بابـا ، عبـدالغفار خـان بابـا او عبـدالصمد خـان بابـا دا هغـه څېرې دي، چې لـه نومونـو سره یې یـواځې پـښتانه، نـه بلکـې ټولـه نړۍ اشـنا ده. د پـښتو او پـښتنولۍ روحیه یې داسې وپالله، چې دا ده پایله یې موږ او تاسو د سر په سترګو وینو.

همدارنګـه ددې پـسې د لیکوالانـو، شـاعرانو، فلـسفیانو، عالمـانو، ځوانـانو او لیـډرانو داسې کاروان درومي، چې منزل او موخه یې د همدې روحیې پالل او روښول دي.

لـه دومـرې اوږدې سریزې او مقـدمې څخـه مې موخـه هـم دا وه، چې د یـوې خـوا پـه پـښتو او پـښتونولۍ بانـدې څـه ناڅـه رڼـا واچـول شي او لـه بـل پلـوه کـه د اروابنـاد ډاکټـر سـتوري د خـوږو مـسرو پـاڼې لـږ پـه کـرار واړوو او پـه غـور یـې ولولـو، دده پـه شـاعرۍ کـې پـښتو، پـښتون، پښتونولي، هغه توکي دي چې د بل هرڅه نه پکې زیات ځلېږي.

اروابنـاد سـتوری روحـاً او جـسماً د پـښتو او پـښتونولۍ پـورې تړلـی شخـصیت و. مینـه، محبـت، وطـن، هېـواد، هېـوادوال، پـښتانه، پـښتو، مـذهب، کولتـور، اخـلاق او بـالاخره د پـښتونولۍ روحیـه، هغـه څـه دي چې د سـتوري صیب پـه ختـه کې اخکـل شوي وو. پـه ښکلو،





رنګینو او ساده الفاظو یې د کاغذ پرمخ انځور کړي. خوږې مـسرۍ یې پـه رښتیا سره خوږې دي، د شـاعر ایـډیال او څیـره تـرې لـه ورایـه څرګنـدېږي. د پـښتنو پـه یـووالي، اتفـاق او پـه وحدت بانـدې ټینګـار کـوي، خو مخکې ورتـه امـن او سوله غواړي. د سولې دا پیغـام د وینـو پـه رګونـو کې نـه شینـدي، چې حرکت وکـړي، بلکـې پـه هغـه ځای کې یې پـاشي، چې رګونـه تـرې سرچینه اخلي:

دا «خـوږې مـسرۍ» د سولې پیغـام وړل دي
محبـت د زړه پـه وینـه کـې شـیندل دي
د اسـمان د سـتورو کـټ کـې یـوه شـپه ده
تخیـل کـې د جانـان کـور تـه ورتلـل دي.

لکـه څنګـه چې پـښتون قـام او پـښتانه چا لـه یـوې دلې پـورې تړلي، چا لـه بلـې دلـې پـورې تړلي دي، همداسې ژبـه یې هـم چا د دیوانو ژبـه بللې، چا د دوزخ ژبـه بللې او چا بیـا بیخـي داسې بللې، چې دا ژبه له هرې معلومې ژبې څخه بېله او بل ډوله ده.

خیـر خـو د هـر چا خپـل نظر دی، خـو پښتو ژبـه ډېر اوږد او لرغـونی تـاریخ لـري، چې دا ددې ځـای موضـوع نـه ده. د پـښتو ژبـې او ادب د صـوفي او فلـسفي شـاعر، د غـزل بابـا حضرت حمزه شینواري دا بیتونه به د ټولو په ځواب کې کافي وي:

وایــــي اغیــــار چــــې د دوزخ ژبــــه ده
زه بــه جنــت تــه لــه پــښتو ســره ځــم
حمــزه ســفر کــه د حجــاز وي نــو هــم
زه د پــــښتون د قــــافلو ســــره ځــــم.

ستوري صیب هـم د پـښتو ژبې د ښې پراخې مطـالعې وروسـته لـه حمـزه بابـا سـره دا خبـره غبرګه کړې ده:

د فـن ښـکلا ده د هنـر پـه ګلـدرو کـې اوسـي
د روح غـــذا ده د ســـندرو او نغمـــو ژبـــه ده

یا په دې بیت کې یې د پښتو څومره ښه انځور وېستلی دی:

ختـه یې خدای د پت، ښېګڼې او وفا جوړه کړه
د پـښتونخوا د دنګـو غرونـو سردرو ژبـه ده

پـه سر کـې مې هـم اشـاره وکـړه، چې د پـښتونولۍ روحیـه د هـر پـښتون پـه ختـه کې نغښتې وي، خـو پـه ځینـو کې دا روحیـه ویـده وي، خـو مـړه نـه وي او پـه ځینـو کې دا روحیـه لکـه د مـست





سیند مـستې څپـې وهـي، لکـه فرهـادي عـزم لـه غـره سره ډغرې وهـي، لکـه شـاهین پـه لـوړو او دنګـو غرونـو پـروازونـه کـوي، لکـه د سپرلي ګـل وریـنـه وږمـه، چې زړونـه تخنـوي، لکـه د ربـاب خوږه نغمه چې ویده زړونه ویښوي او هغه جذبه وي، چې سړی ارام ته نه پرېږدي:

یو پټ غلی احساس دی چې ارام مې نه پرېږدي
په اور مې پښوي لکه چې خام مې نه پرېږدي

هـوا سـتوری صیب د پـښتونولۍ نـوې روحیـه دځانـه، نـه جـوړوي بلکې هـم دا ویـده روحیـه او شعور راویـښول غـواړي، پـښتو کـول، پـښتو ویـل، پـښتو لوسـتل غـواړي. هغـه پـښتو، چې لـه برمه به یې د دښمن سپینې تښتیدې، هغـه پـښتو چې خوشـال خـان بابـا پاللـه، هغـه پـښتو چې مومند بابا او غفار خان بابا غوښتله:

زه د ژوندون ناوې خپل کاله ته راوستل غواړم
زه ویده شعور د پښتونوالې ویښول غواړم
زه پښتو لیکل پښتو ویل، پښتو لوستل غواړم

ماتـه د خپـل کلـي د حجـرو سـندرې لیکـه
ځـار دې شـم قلمـه د پـښتو سـندرې لیکـه.

پـت، ښـېګڼه، تـوره، وفـا، غېـرت، مېړانـه، مېلمـه پالنـه، اخـلاق، راشـه درشـه، ښـه خـوی، شرم، حیـا، انـسانیت، مینـه محبت، سرخندنه، اسـلامیت، ژبـه، کولتـور، پـښتو پالنـه، د ننګـه او سوچه پـښتون صفات دي. کـه چېرتـه پـښتون خدای مـه کـړه دا ځـانګړنې ونـه لري، هغـه تـه موږ سوچه پـښتون نـه شـو ویـلای او تـش پـه دې هـم سړی نـه پـښتون کېـږي، چې د پـښتو ژبـه وایي، خو د پښتو نه هیڅ نه وي خبر.

پـښتو یـواځې ژبـه نـه، بلکـې د پـښتنو لپـاره قـانون دی. اروابنـاد سـتوري ددې ارونـو پـه پـام کـې نیولـو او ښـه تحلیـل وروسـته، ځکـه داسې غـږ پورتـه کـوي. تـش پـه ژبـه، وینـه نـه څـوک پښتون کېدای شي او نه به پښتون شي.

سـتوري وایــي مـا ده ښـه ډېـره څېړلــې
تش په وینه باندې څوک نه پښتون کېږي

دا خـو ښـکاره او جوتـه خبـره ده، کـوم قـام چې واک او اختیـار پـه لاس کـې ولـري، د هغـوی کولتـور او ژبـه هـم تـر نـورو لـوړه وي، چې بې واکـه بې اختیـاره وي، د هغـوی بـه کولتـور څـه وده وکړي؟ ژبه به یې څنګه ژوندۍ پاتې شي؟

خبره مې ټوله د پښتو ده، که د تاریخ پاڼې واړول شي د خپل قام او ژبې په اړه به پکې ډېر څه ومومي. دا به مو هم له سترګو تېر شي، چې دا د دومره لرغوني او غېرتي قام ژبه او کولتور په کوم حالت کې قرار لري. مسئله روښانه ده، که پښتون قام د تاریخ په اوږدو کې له ډېرو سترو سترو قوتونو سره لاس په ګرېوان پاتې شوی، له بل پلوه د کولتوري یرغل د ځپونکي ګواز لاندې هم و. دا نه وایم، چې پښتانه له تاج او تخت واک او اختیار څخه لرې پاتې دي، خو دلته خبره بیا د پښتونولۍ روحیې ته راځي او دا صحي ده، چې په هغو کې دا روحیه غړنده او ویده وه. ګنې نو اوس به د پښتو او پښتنو دا حال نه و او نه به دا اوس په ځېر د پښتنو نه په خپله ژبه کې د تعلیم حق اخیستل کېده.

د پښتنو پښتو لیکل شوې نسخې او عریضې به په لوړو ودانیو کې نه ځېرېدې، هم دغه د کولتوري یرغل ښکاره بېلګې دي. د تعصب له مخې یې نه وایم، د زړه له درده لګیا یم. که د پښتون وړوکی بچي ته له کوچني والي څخه په پردۍ ژبه کې ښوونه او روزنه ورکړی شي، نو د هغې نه به په آینده کې څنګه دا هیله کېدای شي، چې د پښتو او پښتونولۍ نه دی خبر وي.

اروابښاد ستوری د یو ښه سېکالوجېست او ساپوه په صفت دا موضوع ښه ځېرلې، چې سوچ، فکر او زده کړه په خپله ژبه اسانه وي، نه په پردۍ ژبه.

سوچ او اند مورنۍ ژبه کې اسان دی
په پردۍ ژبه کې سوچ انسان ته ګران دی
د ماشوم په مورنۍ ژبه روزنه
سپارښت ستوریه د هر یو ساپوهان دی

له وطن، هېواد او خپلو خلکو سره مینه، محبت، د زړه تړل هم د پښتو او پښتونولۍ یو جز دی. اروابښاد ستوری که جسماً د وطن او هېواده لرې پاتې شوی، خو روحاً له وطن سره تړل شوی. که ناست د لوړو او دنګو ماڼیو په ښار کې و، خو فکر او خیال یې د خپل وطن له خړو خاورو سره تړلی و. د پردو ملکونو په باغ او بڼ، ږغاګانو او چمنونو پورې زړه نه تړي، هره شېبه یې ذهن ته د خپل وطن لوړ دنګ، په واورو، په نښترو پټ شینکي غرونه ودرېږي. وګورئ په څومره خوندورو الفاظو یې خپل خیال له وطن سره تړلی او د وطن د مینې چیغې ښکاره وهي، په زړه کې یې نه پټوي:

ستا د حسن د انګړ نه مې خیال نه ځي
چې په تار د تورو زلفو کې دې بند دی





که د زړه نه مې پوښتې حال په چار وایي
ستا د مینې داستان پټ نه دی څرګند دی

ستوری صیب د پښتنو په یو موټي کېدو، په اتفاق او اتحاد کې خوند مومي او خوند ترې اخلي:

دنیا ټوله راسره شي چې لاس راکې
ستا په مینه ملاتړ کې څومره خوند دی

په دې کې هېڅ شک نه شته، چې ستوری صیب به په دې اغزنه لار کې ډېرې ستونزې ګاللې وي، خو هغه اوس د نینو په څېر په دې بټ کې پوښ شوی، په دې کړاوونو کې رښتیا هم استاد شوی و، خو د پښتو او پښتونولۍ له دریغ څخه نه دی اوښتی او نه یې ایډیال دومره کمزوری و، چې زر به د خپل مرامه واوړي، ځکه وایي:

د ژوند په کړاوونو کې پوښ شوی یم استاد یم
که سل ځله راولېږم بیا پاڅېږم روانېږم
زما دا فیصله، دا مې سوګند او دا پیمان دی
د پت، ښېګړې، تورې او وفا نه، نه بیلېږم

که دا درنه موضوع هر څومره وشاړو، هغومره کوچ ترې راوځي او نه په خپل قلم کې ددې سنګینې موضوع په اړه ددې نه پورته د لیکلو وس لرم. که په لنډو ټکو کې یې راغبرګه کړو، د اروابښاد ډاکتر کبیر ستوي (خوږې مسرۍ) د پښتو او پښتونولۍ هېنداره ده. د پښتنو د یووالي، وحدت، اتفاق، پت، ښېګڼې، تورې، وفا او ننګ مجموعه ده. د ژبې، هېواد، وطن، مینې او محبت نمونه ده او د هر پښتون د زړه غږ دی.

په پای کې لاسونه لپه کوم، اروا یې ښاده او فردوس جنت یې په نصیب شه. د لیکنې ځولۍ به د اروابښاد ستوري په دې بیتونو راټوله کړم:

پاکه ربه ښاد اباد دا پښتانه کړې
د نړۍ په ولسونو کې درانه کړې

د بخت ستوری یې روښان کړې په اسمان کې
خپل وطن کې یې واکمن او کوربانه کړې

* * *





نعمت الله کریاب



# چترال او چترالیان وپیژنئ

په تېر پسې

## د کېلاشو ژوند او کولتور

د ډیورنډ د پولې وړ پورې اړخ چترال کې د وګړیو یوه وړه، خو خورا لرغونې ډله پر خپلې پخوانۍ ګروهې لا هم ټینګه پاتې ده، د دوی مرکزي کلي بمب‌ریت ته په ورتلو ډېر څه بل ډول دي. د ځمکې پر سر د لرګو په پېړو تختو کې د ځمکې پر سر له خپل سامان سره ښخ شوي انسانان، څټ په څټ د لرګیو جوړ واړه کورونه، د اوږدو تورو کمیسونو خولۍ پر سر په کار او زیار لګیا ښځې او نورې څرګندې نښې روښانه پاتې دي.

کېلاش اوس د مسلمانانو په منځ کې اوسي، خپله عقیده یې ساتلې، که څه هم اغېزه پرې شوی.

کېلاش د یو څښتن پر شتوالي باور نه لري او د هر موسم او بدلون یې پخوانیو پالونکي ټاکلي، د کال له پیل څخه تر پای میلې کوي، خو چې د کېلاشو کولتور یې ژوندی ساتلی، هغه مړي ته اتڼ دی.

د چترال په کالج کې د تاریخ او ادبیاتو پروفېسور او د اسیا د کړکۍ په نوم د کتاب لیکوال عنایت الله فیضي، چې دغه کتاب یې د واښیانو او کېلاشو پر ژوند او کولتور لیکلی وایي، چې کېلاش اوس هم د هر شي لپاره له خپلو خیالي سمبولونو دعا غواړي. ښاغلی فیضي یې د ساري په توګه د خدایګوټو نومونه ډیزو، ډیزه لیک او نور یادوي، چې کېلاش یې د غم، خوښۍ، موسم او بچو پیدا کولو واکداران ګڼي.




کېلاش د عبادت لپاره ټاکلی ځای نه لري، ما یې څلور داسې ځایونه ولیدل، چې تر دې وړاندې مې نه وو لیدلي. په دې کې د کېلاشو د مړي د ایښودو او ورته د ګډا ځای، د ښځو لپاره ځانګړې خونه، چې د میاشتې ناروغۍ او زېږون پر وخت پکې اوسي، د ژمي لپاره د نڅا ځانګړې خونه او د قربانۍ ځای.

کېلاشو د قربانۍ ځای د کلي په بره برخه کې د غره پر غاړه جوړ کړی او دا ښایي سوونه کاله پخوانی وي. دلته په کال کې یو ځل ټول سره راټولېږي او سېږي سر څاروي قربانوي، خو دلته د غوا قرباني کول د دوی د عقیدې خلاف کار دی. د قرباني شویو څارویو غوښه بیا لکه د مسلمانانو د لوی اختر پخپلو کې وېشي او که مسلمانان یې په دغه دستور کې ګډون وکړي، څاروي بیا پر مسلمانانو حلالوي. د قربانۍ پر ځای کې یې په لاس تراشلې دړه درولې، پر سر یې ورته د څو چابکو اسونو انځورونه جوړ کړي.

ددغه کلي یو مذهبي مشر نور شایدین وایي، چې دوی عقیده لري چې د قربانۍ الهه یې پر اس سپور راځي او هم دلته تم کېږي.

کېلاشو تر دا څو کلونو وړاندې پورې خپل مړي د ځمکې پر سر له خپلو کالو سره ایښودل، خو اوس یې له دې وېرې په ځمکه کې ښخوي، چې ورسره ایښودل شوي شیان څوک راونه سپړي، خو په زړه پورې دا ده، چې تر ښخولو وړاندې یې هغه ځانګړي ځای ته راوړي، په ورځو ورځو پروت وي او ښځې او نر ورته ډلې ډلې ناڅي، کارنامې یې ستایي، ډول وهي او لکه د واده چې په کور کې هر څه لري، پسې لګوي یې.

نور شایدین وایي: دا دوی ځکه کوي، چې دوی په وروستي ځل له خپل سړي یا

## "د ثور پاڅون، د کې جي بي دسيسي او شوروي يرغل" کتاب چاپ شو

سپين سهار

د کتاب نوم: د ثور پاڅون، د کې جي بي دسيسي او شوروي يرغل
ليکوال: محمد اقبال وزيري
خپرندوی: د پښتونخوا د پوهنې ديره ـ پېښور
مخونه: ۲۵۸
د ليکني ځای: د هالنډ دوردربخت ښار

د افغانستان دې خو لسيزو زره بورنوونکيو پېښو نه يوازې د افغانانو سرنوشت بدل کړ؛ بلکې په نړۍ کې يې هم يو شمېر نالشونې بدلونونه شوني کړل، چې ژوندی بېلګه يې د شوروي اتحاد ماتېدل وو.

د افغانستان پر دغه ډېرش کلن ناورين بانډې په هېواد کې دننه او له هېواده بهر ډېرو ليکوالو په دې باره ليکنې وکړې، چې د دغې دورې تاريخي پېښې هېوادوالو او بهرنيانو ته روښانه کړي. د محمد اقبال وزيري دا ليکنه هم د همدې لړۍ يوه کړۍ ده.

محمد اقبال وزيري په سهيلي وزيرستان کې زېږېدلی، د خوشال خان له ليسې څخه له فارغېدو وروسته د کابل پوهنتون په طب پوهنځي کې شامل شوی او ورپسې د لوړو زده کړو لپاره مسکو ته تللی او هلته يې د مسکو د دولتي پوهنتون د فيلولوژۍ په څانګه کې د ماسټرۍ ډيپلوم تر لاسه کړی. هېواد ته له ستنېدو وروسته يې د پوليتخنيک په انستيتوت کې د روسي ژبې د استاد په توګه دنده ترسره کړې.

محمد اقبال وزيري د محمد داود د حکومت په وخت کې د سياسي فعاليت له کبله بندي شو، چې د ثور له انقلاب وروسته د دهمزنګ له زندانه خوشې او د افغانستان د وسله وال پوځ د سياسي چارو د عمومي رئيس په توګه وټاکل شو. پر افغانستان باندې د سره سکلاک له يرغل سره جوخت د څرخي پله په زندان کې لس کاله او درې مياشتې بندي شو. نوموړی اوس د هالنډ په دوردربخت ښار کې اوسېږي.

"د ثور پاڅون، د کې جي بي دسيسي او شوروي يرغل" د لومړي افغان دولت بنسټ ايښودونکي، ملي لارښود ميرويس نيکه ارواح ته ډالۍ شوی.

په کتاب کې د ليکوال په يادونه بسې د پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ سريزه او ورپسې ليکوال خپلې خبرې پيل کړې.

پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ په ... له سريزه کې دې کتاب په اړه ليکلي، چې دغه ليکنه دوه برخې لري. لومړۍ برخه يې د ليکوال د ژوند د لومړنيو وختو، زده کړو، ګوندي فعاليتونو او د دهمزنګ په زندان کې د بنديوب او دويمه برخه يې د هېواد سياسي تاريخ ته ځانګړې شوې.




کتاب په کابل او مسکو کې د ليکوال له زده کړو پيل شوی او د ډاکتر نجيب الله د واکمنۍ تر پايه پورې پېښې پکې راغښتل شوې، چې ډېری برخه يې د ليکوال سترګو ليدلې پېښې دي.

د کتاب په لومړي څپرکي کې په کابل او مسکو کې د ليکوال زده کړې، په مسکو کې ګوندي فعاليت، شوروي اتحاد ته د نور محمد تره کي لومړی سفر، د مسکو ګوندي سازمان، په دوهم څپرکي کې د محمد داود کودتا، په کابل کې ګوندي فعاليت، په پوځ کې ګوندي جلب او جذب، د دهمزنګ په زندان کې د ليکوال بندي کېدل، د کې جي بي په دستور د پرچميانو له خوا د د داود پر ضد د کودتا ورانول، د مير اکبر خيبر ترور، په درېيم څپرکي کې د ثور انقلاب څنګه ترسره شو؟، د نور محمد تره کي واکمني، ليکوال د وسله وال پوځ د سياسي چارو د سروال په توګه، د شورويانو د وينا او عمل تر منځ تضاد، د دولتي بيرغ هسکول، شوروي اتحاد ته د لوړ رتبه پلاوي رسمي سفر، په څلورم څپرکي کې د ثور انقلاب او د کې جي بي دسيسې، د هرات پېښه، د اسمار د غونډ پېښه، هاوانا ته د نور محمد تره کي سفر، په مسکو کې له برېژنيف سره د تره کي ليدنه کتنه، د کې جي بي دسيسه، د تره کي او امين مقابله او د تره کي پای، په پينځم څپرکي کې د حفيظ الله امين واکمني، د امين پر ضد د کې جي بي ناکامه کودتا، شوروي مشاوران، خلقيان او پرچميان، پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال يرغل، په شپږم څپرکي کې د حدې په شپږمه زما ليدنې کتنې، د ببرک کارمل واکمني، د څرخي پله زندان، په زندان کې پېلوړي، په اووم څپرکي کې د ډاکټر نجيب الله واکمني، د ننې و ګلبدين کودتا، د ډاکټر نجيب الله د واکمنۍ پای او د شوروي يرغل د پېلې تاريخي پېښې په سه ډول روښانه شوې.

ليکوال د کتاب په دويم چاپ کې د پېښو، نېټو، نومونو او نورو سمونو، کمونو او زياتونو لپاره د لوستونکيو و انديرونو ته هرکلی ويلی. د تاريخ مينه والو لوستوال دې د افغانستان له تېرې ډېرش کلنې دورې څخه د خلځبروني په باره دغه ګټور تاريخي اثر هرومرو ولولي.





د ارواښاد ډاکتر کبير ستوري مقبره

### څلوريزه

لمر ماتېږي له مداره ستوري وځي
له ماښامه تر سهاره ستوري وځي
په زرينو تابوتونو کې يې مخ دی
د وطن په هره لاره ستوري وځي

پير محمد کاروان

# ستوری Stori

د امتياز خښتن:
د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنه

مسئوول مدير: عرفان اللهٔ کوټوال
مرستيال: هدايت اللهٔ حيات

کتنپلاوی: بصير بيدار ستوری، محمد داود صديقي، عصمت اللهٔ ملنګ، فضل الهادي عاصم، ميرسلام مجاور، کلرنګ کوچوان

سلاکاره ډله: مرستيال خېړونکی وجيه اللهٔ شپون، عبدالقيوم زاهد مشوانی، شفيع اللهٔ تاند

همکار غړي: رحيم اللهٔ يوسفزی، داود شاه داود، صادق فقير، رضوان الله شپون

د "ستوري" استازي:
کابل: عبدالظاهر شکيب
ننګرهار: شفيع الله تاند
کونړ: نعمت الله کرياب
اسمار: طارق سالارزی
لغمان: امين الدين
باجوړ: سيداغا مياخيل
پېښور: ذبيح شفق
جرمني : نسيم ستوری